اعلامیه جمعیت اصلاح به مناسبت

شهادت مولانا عبد القادر ملا

یکی از رهبران حرکت اسلامی بنگلادیش

قال تعالی: و لا تقولوا لمن یقتل فی سبیل الله أمواتا، بل أحیاء عند ربهم یرزقون.

جمعیت اصلاح افغانستان جنایت رژیم سیکولار و اسلام ستیز حسینه واجد در بنگله دیش را که منجر به شهادت استاد عبد القادرملا یکتن ازرهبران پیشتاز جماعت اسلامی بنگلادیش شده، به شدت نکوهش نموده وفقدان آن بزرگ مرد را به اعضای خانواده, قیادت جماعت اسلامی بنگلادیش ورهروان وهم فکران وی درسراسرعالم تعزیت عرض می نماید(إنا لله وأنا إلیه راجعون).

تنفیذ حکم ظالمانه اعدام علیه استاد عبدالقادرملا درحالی صورت می گیرد که قبل ازوی، چهارتن دیگرازرهبران محاسن سپید جماعت اسلامی بنگلادیش نیزتوسط رژیم حاکم بنابرتهمت های ناحق وبرخلاف تمام معاییرانسانی واسلامی, به اعدام ویاهم حبس های طویل محکوم شده اند.

همه گان میدانند که تمام این محاکمات غیر قانونی و فرمایشی جنبهء سیاسی داشته ورژیم سیکولرحسینه واجد می خواهد تا به این وسیله برناکامی حکومت وفساد گسترده دردم ودستگاه دولتی پرده افگنده وجلو پیشرفت چشم گیربزرگترین رقیب عوامی لیگ وقوی ترین حرکت اجتماعی درآن کشور را سد نماید.

جمعیت اصلاح افغانستان درحالیکه خودرا درغم فقدان استاد عبدالقادرملا با خانوادهء مرحوم، مردم متدین بنگلادیش وامت اسلامی شریک می داند، ازحکومت بنگلادیش می خواهد تا ازاقدامات انتقام جویانه علیه بزرگترین نیروی دینی، اجتماعی وسیاسی درآن کشوردست کشیده وعمداً سبب ترویج خشونت وظلم و کشانیدن کشور بنگله دیش بطرف بی ثباتی وبحران نگردد.

ما همچنان از تمام مردم آزادیخواه جهان، کنفرانس همکاری کشورهای اسلامی، دولتهای مسلمان، وسازمان های بین المللی می خواهیم تا جلو طغیان وجنایت های رژیم حسینه واجد علیه حرکت اسلامی بنگلادیش را سد شوند. باید گفت که سکوت در برابر این جنایات نابخشودنی درحقیقت به معنای شرکت در جرم و حمایت از مجرم بوده و از طرف ملت بنگله دیش وملتهای مسلمان جهان محکوم پنداشته می شود.

نصیر احمد نوید

رئیس شورای مرکزی

جمعیت اصلاح افغانستان

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید

کابل: تایمني, چهار راهی حاجي محمد داد, سرک ۴, دفتر مر جمعیت اصلاح. تیلفون:۰۷۹۹۳۹۴۰۱۵/ ۲۰۲۲۰۴۳۰۵

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشر اصلاح افکار:موبایل:۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهر نو, چهار راهی انصاری ,کتاب فروشی رسالت.۰۲۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر, ۸۸۷۰۳۰۵

کابل: کمپیوتر فروشی الکاموي جاده نادر پشتون, مارکیت نظرمنزل۲دوکان ۲۳/ . ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: کابل ده افغانان کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد, نارنج باغ, عبدالحق مینه، (دکابل د موټرو اډه) د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ټیلیفون: ۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

×د شیرین دل پلازي لاندي پور, نقیب کتاب پلورنځی. تیلفون ۰۷۰۰۹۵۶۴۲۳/۰۷۷۲۸۲۸۶۴۹

کندهار: نوی ښار، د هرات سرک، د سرې جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه(رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي د تلیفون: ۰۷۰۰۳۰۸۲۷۱ ـ ۰۷۰۰۶۶۸۹۴۸

لغمان: مهترلام ښار,حمزه مارکیټ تیلفون: ۰۷۹۹۴۴۲۹۲۰

هرات: جاده بانک خون، بالا تر از تالار قمر، گذر هشت بهشت، انجمن اخلاق و معرفت تیلیفون: ۰۴۰۲۳۵۵۹۰

بلخ: عقب حمام سره میاشت، مرکز تعلیمی اصلاح ۰۷۹۹۶۹۴۲۴۵

کندز: شهر کندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، مؤسسه تحصیلات عالی سلام ۰۷۸۷۷۰۳۷۲٤

بغلان: پلخمری،مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت ۰۷۷۷٤۷٦٤٦۹ /۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

لوگر: مرکز, مدینه مارکیت سرک مسجد جامع, کتاب فروشی سادات, سید عبدالحمید هاشمی, تیلفون: ۰۷۰۰۰۴۴۹۸۱

لوگر: محمدآغه, واغجان بازار, پهلوی کلنیک حسین خیل,تیلفون:۰۷۷۵۴۱۳۸۷۶

پکتیا: د گردیز ښار, مرکزي چوک، د نمایندگی وحید الله: ۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست: افغان تاور شاته خوست مرکزی طبی لابراتوار دوهم پور د جمعیت اصلاح ساحوی دفتر د اکتر محمد کلاب:۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶/۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان فیض آباد: ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸ / ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴

زابل: ۰۷۰۰۳۰۱۹۴۸

فراه: جاده مخابرات دست راست مرکز علمی و فرهنگی توحید ۰۷۰۳۲۰۲۰۴۴

کونړ: د معارف ریاست ته مخامخ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر

پیښور: مرکز فرهنگی اسلامی افغانستان/ تیلفون: ۰۹۱۵۸۵۲۷۹۵

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

راهکارهای مؤثر مبارزه با جرایم علیه زنان در افغانستان

بقلم: پوهندوی دکتور فضل الهادی وزین

قال تعالی: ولکم فی القصاص حیاة یا أولی الألباب".. سورة البقرة:۱۷۹

معنی ومفهوم آیت مبارکه: ای صاحبان خرد و عقل!

در تطبیق و اجرای قصاص حفظ و بقای زنده گی شما مضمر است.

بر بنیاد گزارش رسانه ها ، شوهر بیرحم و جنایتکاری که به مواد مخدر معتاد است، درولسوالی انجیل ولایت هرات با سفاکی و درنده گی بینی ولب خانم خود را قطع کرده است.

به ارتباط این عمل جنایتبار و غیر انسانی،ذکر چند نقطه مهم را لازم میدانم:

۱ -اگر همانگونه که رسانه ها گزارش داده اند، این جنایت واقع شده باشد، عمل مذکور شدیدا محکوم وقابل تقبیح است.

۲-جنایت انجام شده از نظر شریعت اسلامی یک جرم بسیار شنیع و بزرگ است که فاعل آن پس از اثبات جرم، شرعا مستحق جزای قصاص می باشد.

۳ -دستگاه های عدلی و قضایی کشور باید فورا و بدون تأخیر وارد عمل گردیده و شخص درنده ای را که مرتکب این جرم شنیع شده است گرفتار نموده وبه پنجه قانون بسپارند تا شرعا محاکمه شده و به جزای عمل خود برسد.

۴ -اجرای حکم قصاص شرعی درین مورد، و سایر موارد مشابه اعم از قتل و جرح و قطع اعضای جسم ، مؤثر ترین راهکار مبارزه با تجاوز وتعدی بر نفس انسانهای بی گناه است.

انتشار روز افزون اعتیاد به مواد مخدر، ازدیاد اعتیاد به خمر و شراب، نشر فلمهای مبتذل و مخالف با ارزشهای دینی واخلاقی، نشر برنامه های اخلاق سوز از طرف اکثر شبکه های تلویزیونی، حمله و هجوم شدید فرهنگی و هدف قرار دادن نسل جوان،نشر بی بند وباری اخلاقی در موسسات و مراکز تعلیمی،فقدان پالیسی وبرنامه واضح حکومتی در حمایت وتوجیه جوانان، ضعف تعلیم وتربیه مناسب در مکاتب و پوهنتونها، ضعیف شدن تماسک خانواده گی، سخت شدن شرایط ازدواج، فقر وضعف اقتصادی، بیکاری و بی برنامه گی جوانان و تضعیف نقش مسجد در جامعه، وجود ظلم و بی عدالتی در جامعه، عدم تطبیق درست و جدی شریعت و قانون،فساد اداری در دستگاه کشف جرایم و نهاد های عدلی و قضایی کشور، همه عوامل و بسترهای اند که زمینه وقوع جرایمی چون قتل، اختطاف، تجاوز جنسی، تعدی وتجاوز به زنان، خشونت خانواده گی، سرقت وغیره را بصورت روز افزون مساعد می سازند.

اگر حدود شرعی بصورت دقیق و در چوکات قانون، با شفافیت و با تطبیق جدی موازین شرعی چه در اثبات جرم و چه در تطبیق حکم، از طرف دستگاه عدلی وقضایی کشور اجرا شود، بدون شک گراف جرایم در کشور پایان آمده و دیگر جنایتکاران کمتر جرئت خواهند کرد که به نفس، ناموس، کرامت ومال مردم دست تجاوز وتعدی دراز کنند.

۵ -علما، دانشمندان و دعوتگران وخطبای کرام باید بر اساس مکلفیت و مسؤولیت شرعی شان، حق متمثل در حکم شرعی دراین گونه موارد را با جرئت و بی هراس بیان نموده و بدور از ترس ملامتی ملامت کننده بمصداق آیه مبارکه " و لایخافون لومة لائم" و حدیث شریف " واتقوا دعوة المظلوم فإنه لیس بینها وبین الله حجاب " از هر مظلومی که طرف تجاوز و تعدی قرار گرفته باشد –خصوصا زنان و اطفال که از اقشار آسیب پذیر جامعه ما اند– حمایت کنند.

۶ -برخی از رسانه ها و مؤسسات غیر حکومتی – (NGO)گفتم برخی ونه همه – که سنگ دفاع و حمایت از حقوق زنان را به سینه می زنند و متأسفانه ازین شعار بظاهر زیبا برای رسیدن به اهداف ایدیولوژیک،سیاسی و اقتصادی استفاده می کنند، نباید از مظلومیت زنان واطفال افغانستان سوء استفاده نموده و به عوض سهمگیری در حل مشکل وحمایت زنان و اطفال، جنایات و جرایم مشتی از درنده گان را وسیله اسلام ستیزی و توهین به احکام وارزشهای راستین اسلامی بسازند.

۷ -رسانه های کشور،خصوصا رسانه های تصویری و صوتی – البته بازهم مراد تعدادی ازین رسانه ها ونه همه

آنهاست- نباید این حوادث تاسف آور را وسیله تبلیغات علیه ارزشهای اسلامی ساخته و خون های مظلومانی را که به ناحق ریختانده شده است وسیله گرم شدن بازار و اندوختن مال وثروت قرار بدهند.

رسانه ها باید با پابندی به اصول مسلکی و هدف خدمت به کشور، در ایجاد بستر فرهنگی ریشه کن ساختن جرایم در کشور، خصوصا جرایم علیه زنان واطفال نقش و رسالت انسانی و وطنی خویش را ادا نمایند.

۸ -تا جایی که من بیاد دارم جرایمی چون قطع گوش وبینی و یا بریدن اعضای جسم در کشور ما در گزشته سابقه ندارد و از یک دهه این سو است که چنین حوادثی در افغانستان اتفاق می افتد، ایجاب می کند تا مراکز تحقیقی کشور مانند اکادمی علوم و پوهنتونهای افغانستان درین زمینه تحقیق علمی انجام داده و ریشه ها و اسباب وقوع این جرایم، و بلند رفتن گراف آن را در سالهای اخیر، همراه با راهکارهای مبارزه با این پدیده شوم تشخیص بدهند.

۹ -انتشار روز افزون اعتیاد به مواد مخدر، ازدیاد اعتیاد به خمر و شراب، نشر فلمهای مبتذل و مخالف با ارزشهای دینی واخلاقی، نشر برنامه های اخلاق سوز از طرف اکثر شبکه های تلویزیونی، حمله و هجوم شدید فرهنگی و هدف قرار دادن نسل جوان،نشر بی بند وباری اخلاقی در موسسات و مراکز تعلیمی،فقدان پالیسی وبرنامه واضح حکومتی در حمایت وتوجیه جوانان، ضعف تعلیم وتربیه مناسب در مکاتب و پوهنتونها، ضعیف شدن تماسک خانواده گی، سخت شدن شرایط ازدواج، فقر وضعف اقتصادی، بیکاری و بی برنامه گی جوانان و تضعیف نقش مسجد در جامعه، وجود ظلم و بی عدالتی در جامعه، عدم تطبیق درست و جدی شریعت و قانون،فساد اداری در دستگاه کشف جرایم و نهاد های عدلی و قضایی کشور، همه عوامل و بسترهای اند که زمینه وقوع جرایمی چون قتل، اختطاف، تجاوز جنسی، تعدی وتجاوز به زنان، خشونت خانواده گی، سرقت وغیره را بصورت روز افزون مساعد می سازند.

۱۰ -اعمال فشار از طرف کشورهای غربی و موسسات بین المللی بر پارلمان و حکومت نیز در تضعیف روند قانون سازی و تطبیق قوانین برای مبارزه با جرایم در کشور مؤثر است.

متاسفانه این کشورها و سازمانها با تحمیل قرائت و برداشت خاص خود شان از حقوق بشر مانع تطبیق حدود و احکام شرعی در کشورهای اسلامی از جمله افغانستان می شوند که در نتیجه جرایم در جامعه رشد نموده و زمینه های فرار مجرمان و جنایتکاران از پنجه قانون فراهم می شود.

و پایان سخن اینکه: مبارزه علیه جرایم و منکرات درهر شکل وصورتی که باشد، به یک تلاش همه جانبه و فراگیر نیاز دارد که مستلزم مشارکت فعال ومخلصانه فرد فرد ملت افغانستان است.

الله متعال همه را در بیان حق و تطبیق آن توفیق نصیب فرماید.

اسلام و حفظ نام نیک زن

حفظ آبرو و نیک نامی زن چنان پیش خداوند مهم است که در این مورد قرآن آیه هایی نازل نموده که تا قیامت تلاوت می‌شوند و در این آیات خداوند مردم را از تهمت زدن و پخش کردن شایع بد در مورد زن مسلمان بر حذر داشته است.

چنانکه فرموده است: والذین یرمون المحصنات المؤمنات ثم لم یأتوا باربعۀ شهداء فاجلدوهم ثمانین جلدۀ و لا تقبلوا لهم شهادۀ ابدا و اولئک هم الفاسقون.{سوره نور: آیه ۴}

ترجمه: کسانی که به زنان پاکدامن نسبت زنا می‌دهند، سپس چهار گواه نمی‌آورند، بدیشان هشتاد تازیانه بزنید و هرگز گواهی دادن آنان را نپذیرید و چنین کسانی فاسق می‌باشند.

خداوند در این آیه سزای کسی را که به زن مؤمن تهمت می‌زند، هشتاد ضربه شلاق قرار داده، و نیز با نپذیرفتن شهادت تهمت زننده برای همیشه و توصیف او به فسق، سزایش را تشدید نموده است. خداوند تنها به این سزا بسنده نکرده، بلکه: چنین افرادی را که زنان پاکدامن را تهمت می‌زنند تهدیدهای شدیدتری نموده است: ان الذین یرمون المحصنات الغافلات المؤمنات لعنوا فی الدنیا و الآخرۀ و لهم عذاب عظیم یوم تشهد علیهم السنتهم و أیدیهم و ارجلهم بما کانوا یعملون، یومئذ یوفیهم اللّه دینهم الحق و یعلمون ان اللّه هو الحق المبین. {نور آیه ۲۳}

ترجمه: کسانی که زنان پاکدامن و بیخبر از گناه مؤمن را به زنا متهم می‌سازند در دنیا و آخرت از رحمت خدا دور و عذاب عظیمی دارند. در آن روزی که علیه آنان زبان ودست وپای ایشان بر کارهایی که کرده‌اند گواهی می‌دهند در آن روز خداوند جزای واقعی آنان را بی‌کم و کاست بدیشان می‌دهد و آگاه می‌گردند که خداوند حق آشکار است.

و در قضیه افک خداوند، پاک دامنی عایشه را نازل کرد و فرمود: ان الذین جاءوا بالافک عصبۀ منکم لا تحسبوه شرا لکم بل هو خیرلکم لکل امری منهم ما اکتسبت من الاثم، والذی تولی کبره منهم له عذاب عظیم) { نور: ۱۱}

ترجمه: کسانی که این تهمت بزرگ را پرداخته و سر هم کرده‌اند، گروهی از خود شما هستند، اما گمان مبرید که این حادثه برایتان بد است بلکه این مسأله برایتان خوب است و هر کدام از آنان به گناه کاری که کرده است گرفتار می‌آید و کسی که بخش عظیمی از آن را به عهده داشته است، عذاب بزرگ و مجازات سنگینی دارد.

تعصبات د اسلام له نظره

لمړۍ برخه

لیکنه: دکتور مصباح الله

افغانستان نن د تاریخ په یوه ډېر حساس پړاو کې قرار لري او دا ځکه چې د اوږدو نا امنیو او د پردیو لخوا د مسلط کړو او خپلمنځي جنګونو نه وروسته، یو ځل بیا د بیا رغونې او د پرمخ تلونکو هېوادونو په قطار کې د درېدو په درشل کې دی، خو په همدې حساس پړاو کې څه داسې لاملونه او اسباب شته چې که د افغانستان ملت ورته متوجه نه شي، نو د پرمختګ دا اوسنی خوب به هم یو خوب پاتې شي، او د ماضي په څېر به چې د پرمختګ ډېر فرصتونه مو پکې له لاسه ورکړي دي، دا فرصت هم له لاسه ورکړو، ددې مشکلاتو له جملې څخه یو هم په هېواد کې د موجودو تعصباتو موضوع ده، دا یوه داسې حساسه موضوع ده چې دا ملت د یو ډېر بد او تیاره برخلیك سره مخ کولی شي، او که په وخت دغه مصیبت ته توجه او پام وشي نو په نتیجه کې یې د افغانستان ملت ته د وریېښدونکې یوې لویې فاجعې مخه نیول کېدلی شي، تعصباتو څخه مو څه مراد دی؟ او هغه زموږ هېواد ته څه زیانونه لري؟ آیا تعصب کومه عقلي مبنی او اساس لري؟ داسلام له نظره یې حکم څه دی؟ په همدې اړه په لاندې کرښو کې له درنو لوستونکو سره یو څو خبرې شریکول غواړو.

۱- د تعصب مفهوم او معنی

که د لغوي او معجمي اصطلاحاتو څخه تېر شو او په لنډو ټکو کې د تعصب معنی بیان کړو نو وبه وایو چې: تعصب په حق او ناحقه په ډېر شدت او حدت[1] سره د هغې ډلې حمایت، ملاتړ او ورسره درېدلو ته وایي چې انسان ورسره په کورنۍ، نسب، عرق، ژبه، قبیله، وطن، جغرافیایي موقعیت، سمت، مذهب، تنظیم، حزب، ... کې اشتراك او ګډون ولري، همدا راز د نورو په مقابل کې د خپل قوم، نسب، ژبې، کورنۍ او ... لویې بیانول او په هغې بې ځایه فخر کول هم د تعصب یو شکل او بڼه ده ددې ترڅنګ د یو قوم، ژبې، سیمې، هېواد، کورنۍ، قبیلې ... سره تعصب درلودل دا معنی لري چې له هغې سره باید د نفرت تعامل وشي، دوی په مجموع کې بد وګڼل شي او ورسره کرکه وکړل شي، او په ټوله کې یې بدي بیان شي.

لدې تعریف څخه دا څرګندېږي چې تعصب دا لاندې بېلا بېل ډولونه لري:

۱- د قوم، ژبې، کورنۍ، قبیلې، وطن، جغرافیایي موقعیت، سمت، مذهب، حزب، تنظیم، او ...لپاره، په دې معنی تعصب چې انسان پرته له دې چې په یوه قضیه کې دا معلوم کړي چې حق کوم لور ته قرار لري، دعدل او انصاف فیصله څه ده د خپل قوم، هم ژبو، کورنۍ، قبیلې، خپلو هم مذهبو، او د خپلې سیمې او کلي، وطن او ولایت د اوسېدونکو ترڅنګ ودرېږي، دا تعصب شمېرل کېږي.

۲- دغو پورتنیو عناصرو ته تعصب درلودل دا معنی هم لري چې په دې باندې په مجموع کې انسان بې ځایه تفاخر وکړي، او دې عناصرو ته د تړاو له امله ځان له نورو اوچت وګڼي.

۳- درېیم ډول یې دا دی چې د دغو ټولو عناصرو د اختلاف په بنسټ د خلکو سره نفرت او کرکه وشي.

دا درې واړه د تعصب شکلونه او بڼې دي چې په عقلي او شرعي دواړو لحاظونو نادرست او ممنوع دي.

۲- د تعصب تاریخي شالید

په دې کې شك نشته چې د هغه چا ملاتړ، مرسته کول او له هغه سره خواخوږي درلودل چې انسان ورسره دا پورتنۍ اړیکې ولري یو فطري عمل او یوه انساني غریزه ده، او دا ځکه چې انسان له هغه چا سره زړه نیسی او محبت یې ورسره پیدا کېږي چې له ده سره نږدې والی ولري، له دې امله ویلی شو چې تعصب یوه ډېره پخوانۍ پدیده ده، او د انسان د پیدایښت سره سمه راپیدا شوې، مګر کله چې اسلام د بشریت لپاره د یو بشپړ قانون په توګه راغی نو د نورو اړخونو سره سره یې ددغې انساني غریزې تهذیب هم په غاړه واخیست، او دا یې وویل: چې مسلمان باید د خپلو نږدې خلکو سره (چې دا نږدېوالی په هر څه کې وي) مینه او محبت ولري، د هغوی حقوق اداء کړي، مګر د مرستې، حمایت او کمك معیار په اسلام کې حق او عدل دی، حق چې د هر چا په اړخ کې وي، اسلام د هغه د حمایت او ملاتړ حکم کوي هغه که پردی وي او که خپل، نږدې وي او که لیرې، اوکله هم چې څوك په حق نه وي هغه سره درېدل ظلم او تعصب بولي.

دا خو یوه بشري او انساني غریزه ده مګر په نوي عصر کې چې د قوم پرستۍ، وطن پرستۍ او د داسې نورو تعصباتو په بنسټ په اسلامي نړۍ کې کوم نظریات، ګوندونه، حزبونه او فلسفې رامنځ ته شوې دي دا په حقیقت کې یا خو د دونمه یهودانو لخوا ایجاد شوې پلمې وې، چې په تر کیه کې یې د ترکي قومیت نعره اوچته کړه او په عربي نړۍ کې یې د عربي قومیت چیغه ووهله او په نتیجه کې یې اسلامي خلافت له منځه یوړ، او یا هم د نورو ټولو انحرافی افکارو په څېر د اروپا څخه دلته را منتقل شوي دي، او دا ځکه چې د منځنیو پېړیو په اروپا کې د خلکو ترمنځ د اړیکو بنسټ دین ؤ او کله چې د کلیسا پر ضد خلك راپاڅېدل او د کلیسا مرجعیت یې له منځه یوړ، نو د ژوند د نورو اړخونو په څېر په سیاسي او اجتماعي اړخ کې هم خلك د نوو بنسټونو او مرجعیتونو په لټه کې شول چې د همدې په نتیجه کې قوم پرستي په فلسفي توګه یو له هغو بنسټونو څخه وګرځیده چې سیاسي او اجتماعي نظریات پرې بناء شي، مګر بیا هم ددې خلکو ترمنځ اختلاف موجود ؤ، چې قومونه له څه نه تشکیلېږي، یو شمېر خلکو ویل: چې د ژبې اشتراك د قوم د تشکیل بنسټ دی، نورو بیا رنګ او نسب ددې بنسټ وګاڼه، یو

[1]- په شدت سره حمایت کول مو ځکه وویل: چې د تعصب په لغوي معنی کې حدت او شدت موجود دی.

شمېر نور بیا په دې نظر دي چې په یوه جغرافیایي محدوده کې اوسېدل، ګډ عادتونه او عنعنات درلودل د قوم د تشکیل اساس ګرځي.

آیا قوم، قبیله، ژبه، دافتخار او دوستۍ او دښمنۍ لپاره درست بنسټونه دي؟

اوس که څوک دا خبره وخېږي چې هغه څه چې متعصب خلك یې یو بل سره د حمایت، دوستۍ، مرستې، او تفاخر معیارونه ګڼي آیا د عقل له مخې دا ددې لپاره معیار جوړول صحیح او درست کار دی؟ په حقیقت کې قومیت، ژبه، سیمه، جغرافیایي حدود او داسې نورو عصبیتونو باندې افتخار او هغه د دوستۍ او دښمنۍ معیار ګرځول د بشري تاریخ په اوږدو کې د بشریت د ټوټه ټوټه کېدو او د انسانانو ترمنځ جنګونو، مرګونو او لویو مصیبتونو لامل ګرځیدلی دی، (که چا د اروپا تاریخ لوستی وي نو دا به ورته په ښه توګه څرګنده وي) او څه شی چې بشریت ته مصیبتونه راوړي هغه هېڅ کله هم د عقلي معیار سره سم د دوستۍ او دښمنۍ لپاره درست بنسټ نشي کېدلی، که چېرته په افغانستان کې هم همدا شیان د دوستۍ، دښمنۍ، مرستې او تفاخر معیار وګڼو، نو دلته هم هماغه مصیبتونه راتللی شي چې لدې امله په نورو ځایونو کې راغلي ؤ.

دوهم دا چې هغه څه چې د یو انسان په اختیار کې نه وي، او هغه یې په منلو مجبور وي، د ښه او بد اختیار یې د هغه په لاس کې نه وي، هغه د دوستۍ او دښمنۍ معیار ګرځول او په هغه باندې فخر کول او د هغه له امله ځان لوړ ګڼل کله د عقل سره برابره خبره ده، ددې خبرې توضیح دا ده چې انسان په کوم قوم، قبیله، کورنۍ، سمت، جغرافیایي موقعیت، رنګ او شکل پیدا کېږي دا ټول د هغه له اختیار څخه وتلي شیان دي، هېڅ کله هم څوک ددې توان نه لري چې د ځان لپاره دې له دغو څخه یو هم غوره کړي، هغه انسان چې په دې عناصرو باندې افتخار کوي، دا د فضلیت بنسټ بولي، همدا د محبت او دوستۍ او دښمنۍ اساس بولي که چېرته همدا انسان په هغه قوم، قبیله، کورنۍ، ... کې پیدا شوی وای چې اوس پرې ځان غوره بولي، او له همدې امله ورسره دښمني او نفرت لري ... نو په هغه وخت کې به یې دریځ څه وو؟! نو بناء یو څیز چې د چا په اختیار کې نه وي هغه ولې د تفاضل دښمنۍ، کر کې، نفرت او دوستۍ بنسټ وګرځول شي.بلکې هغه څه چې د انسان په اختیار کې هم وي لکه: ګوند، تنظیم، مذهب ... پرته له دې چې د هغه ښه او بد، حق او باطل، عدل او ظلم ولیدل شي، مطلقا د هغه له نوم سره انسان حساسیت ولري، او د یو معقول او درست دلیل څخه پرته خپل ګوند، تنظیم، مذهب ... بهتر او غوره وګڼي او نور ټول په بشپړه توګه مردود وشمېري او د هغوی پر ضد له غوسې نه ډك دریځ غوره کړي دا هم د عقل او منطق څخه لیرې او د اسلامی شرعي نصوصو سره مخالف کار دی.

همدا راز هر څوك چې یو څیز د اعزاز، اکرام او افتخار وړ ګرځوي هغه د هغه عمل، کړنې او کردار دی، او هغه څه چې له انسان څخه د نفرت لامل ګرځي هغه د هغه کړنې او بد عملونه دي او دا دواړه انفرادي شیان دي، د یو تن د افتخاراتو له امله د هغه د قوم او قبیلې او سیمې ټول افراد او وګړي (ښه وي او که بد) د تفاخر او ویاړنې حق نه ترلاسه کوي، همدا راز د یو چا د بد عمل او بدو کړنو له امله ټول ملت او ټول قوم او قبیله د نفرت وړ نه ګرځي، نو ځکه خو عقلا دا درسته خبره نه ده چې په یو قوم باندې په مجموع کې تفاخر وکړی شي، ځکه چې په هغه کې د افتخار وړو خلکو ترڅنګ د بدو کړنو له امله د نفرت او کر کې وړ خلك هم وجود لري، او یا هم قوم د قوم په توګه ټول د نفرت وړ وګڼل شي ځکه په هغه کې د نفرت وړو خلکو ترڅنګ د ښه عمل او کړنو له لحاظه د افتخار وړ خلك هم وجود لري.

له همدې امله د نفسیاتو علماء (ارواپوهان) دا تعصب یو ډول نفسیاتي (رواني) ناروغي بولي چې د مزاج د تندۍ له امله راولاړېږي، او د عقل او درست تفکیر څخه لیرې په احساساتو ولاړ دریځ یې بولي، په دې باب مشهور فرانسوي قاموس (لاروس) کې د تعصب تعریف داسې کوي: (حماسة عمیاء لعقیدة او رای او مشاعر جارفة نحو شیء ما) یعنې تعصب (د یوې عقیدې او رایې په باره کې د ړانده جوش څخه کار اخیستل او د یو شي (لکه قوم، قبیله، وطن، سیمه، ژبه...) په اړه د نه کنترولیدونکو احساساتو د درلودلو نوم دی)، لنډه دا چې دا د جوش او احساساتو نوم دی، په منطق او فکر او عقل باندې ولاړ دریځ نه دی، بلکې ارواپوهان وایي: چې دا هغه دریځ دی چې د پوره تفکیر او د موجودو دلایلو په نظر کې نیولو څخه پرته یې انسان نیسي، کیتش اوکریتشفلید وایي: (بانه تشکیل رای ما دون أخذ وقت کاف أو عنایة للحکم علیه بإنصاف وقد یکون هذا الرأی ایجابیا او سلبیا ویتم اعتناقه دون اعتبار للدلائل المتاحه) یعنې د یو څه په اړه په داسې حالت کې یو نظر او رای قائمول دي، چې په اړه یې کافي وخت فکر نه وي شوی، او د هغه په اړه په انصاف سره د فیصلې کولو کافي اهتمام نه وي شوی، دا نظر او

همدا راز هر څوك چې یو څیز د اعزاز، اکرام او افتخار وړ ګرځوي هغه د هغه عمل، کړنې او کردار دی، او هغه څه چې له انسان څخه د نفرت لامل ګرځي هغه د هغه کړنې او بد عملونه دي او دا دواړه انفرادي شیان دي، د یو تن د افتخاراتو له امله د هغه د قوم او قبیلې او سیمې ټول افراد او وګړي (ښه وي او که بد) د تفاخر او ویاړنې حق نه ترلاسه کوي، همدا راز د یو چا د بد عمل او بدو کړنو له امله ټول ملت او ټول قوم او قبیله د نفرت وړ نه ګرځي، نو ځکه خو عقلا دا درسته خبره نه ده چې په یو قوم باندې په مجموع کې تفاخر وکړی شي، ځکه چې په هغه کې د افتخار وړو خلکو ترڅنګ د بدو کړنو له امله د نفرت او کر کې وړ خلک هم وجود لري، او یا هم قوم د قوم په توګه ټول د نفرت وړ وګڼل شي ځکه په هغه کې د نفرت وړو خلکو ترڅنګ د ښه عمل او کړنو له لحاظه د افتخار وړ خلک هم وجود لري.

رایه مثبته وي او که منفي، خو چې د موجودو دلایلو په نظر کې نیولو څخه پرته خپله کړی شي. نو کله چې دا یو احساساتي او د تفکیر او عقل څخه لیرې دریځ دی او علماء یې رواني مرض ګڼي، او د عقل او منطق پر ضد یې بولي نو باید د سلیم عقل خاوندان ترې ځان وساتي.

په تعصب د اخته کېدو لاملونه

نو پوښتنه دا ده چې کله تعصب داسې یو مرض دی، نو خلك ولې په دې مرض اخته کېږي؟ په ډېره لنډه توګه ویلی شو چې په تعصب د اخته کېدو لاملونه او اسباب په لاندې ډول دي:

لومړی: غلط فهمي او غرور

د خپل ځان، خپل قوم، خپل وطن ... په باره کې په غرور کې اخته کېدل، خپل ځان، خپله کورنۍ، خپل قوم، ... ورته ډېر پیاوړی او ستر معلومېدل، چې په همدې غرور او غلط فهمۍ کې فرعون هم د ځان په اړه اخته وه، هغه به ویل: {قَالَ فِرْعَوْنُ مَا أُرِيكُمْ إِلَّا مَا أَرَىٰ وَمَا أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ الرَّشَادِ} [غافر: ۲۹] فرعون وویل: زه تاسې ته هغه لاره ښایم چې زه یې درسته ګڼم، او زه تاسې ته یوازې سمه لاره درښایم. دا وینا ددې ښکارندویه ده چې فرعون په څومره لوی غرور کې اخته وو، کله هم چې انسان ددې غرور څخه راووزي نو بیا د تعصب له مرض څخه نجات موندلی شي، او که دا غرور او غلط فهمي لیرې نه شي نو د عمر تر پایه پورې دا مرض د انسان په زړه کې پاتې کېږي.

دویم: تنګ نظري او د خپل ځان په محور راڅرخېدل

داسې ډېر خلك شته چې ډېر تنګ نظره دي، او د هېچا سره تعامل نه کوي، او نه له چا سره راشه درشه لري او نه له نورو سره د اړیکو ساتلو فرصتونه ورته برابر وي، داسې خلك هم په تعصب اخته کېږي ، ځکه چې د نورو خلکو سره د تعامل په نتیجه کې د نظرپراخي پیدا کېږي ، د خلکو ښه او مثبت صفات د انسان مخې ته راځي چې هغه تعصب له منځه وړي، او د نورو خلکو سره مقاطعه او راشه درشه او راکړه ورکړه نه درلودل په انسانانو کې تنګ نظري او د همېش لپاره په خپل محور د راڅرخېدو ناوړه صفات پیدا کوي چې دا بیا په تعصب تمامیږي .

دریم: ناسم ټولنیز چاپیریال

همدا راز هغه ناسم ټولنیز چاپیریال چې انسان پکې ژوند کوي، او هغه پکې رالویږي هغه په انسان کې د تعصب د راپیدا کېدلو لامل ګرځي، که څوك په داسې کورنۍ، دوستانو، یا داسې ټولنیز محیط او چاپیریال کې ژوند کوي چې هلته د نورو پر ضد نفرت او کرکه وي، نورو ته په سپکه کتل کېږي، او بد رد وریسې ویل کېږي، د هغو د ښو صفاتو د یادولو پرځای په منفي اړخونو تر کیز کېږي ، بلکې مثبت اړخونه یې هم په منفي توګه وړاندی کېږي، دا ډول چاپیریال د انسان په زړه کې د تعصب، او د خپل ځان په اړه پر نورو د ځان لوړ ګڼلو جذبه او له نورو څخه د نفرت او دتحقیر احساسات راپیدا کېږي، همدا راز که چېرته څوك داسې سیاسي، قومي، مذهبي او فکري مشران ولري چې د خپلو ګټو د لاسته راوړلو لپاره د خپلو خلکو په ذهنونو کې د نورو پر ضد د نفرت احساسات پیدا کوي دا د تعصب د راولاړیدو یو بل لوی لامل دی.

څلورم: جهالت او دنورو په اړه دمعلوماتو کمی

د تعصب یو بل لوی لامل د خپل ځان په اړه ناپوهي او دنورو په اړه د معلوماتو کمی او یا بیخي معلومات نه درلودل وي، ځکه د بل چا په اړه د انسان په ذهن کې نفرت هغه وخت ځای نیسي چې هغه ورته د منفي صفاتو یوه مجموعه ښکاره شي، او دا خو معلومه خبره ده چې د یو قوم ټول خلك، او د یوی سیمی او وطن ټول اوسېدونکي او د یوې ژبې ټول ویونکي په یو ډول د ټولو منفي صفاتو درلودونکي کېدلی نشي، همدا راز دغه انسان چې په چا فخر کوي ناممکنه ده چې هغوی دې ټول د یو ډول او په یوه سویه د ښو صفاتو لرونکي شي، نو بناء دا څرګنده خبره ده چې دغه انسان په جهل، ناپوهۍ، د معلوماتو په کمي او یا هم نشتوالي کې واقع دی.

پنځم: له نورو خلکو سره د تعامل د اخلاقیاتو څخه بې خبري

یو بل څه چې د تعصب لامل ګرځی هغه له خپلو مخالفینو سره د تعامل د درستو اصولو او اخلاقیاتو څخه بې خبري او یا هم د هغه نه مراعاتول دي، په دې معنا چې ټول انسانان خو په یو څېر نشي کېدلی، د هغوی ترمنځ به د قوم، سیمې، وطن، ژبی، مذهب، رایې، فکر ... په بنسټ توپیرونه موجود وي، همدا راز ټول انسانان په ټولو اړخونو کې مختلف هم نه وي بلکې ډېر مشترکات او ګډ صفتونه هم لري، نو همېشه اختلاف د دښمنۍ او نفرت بنسټ ګرځول هم درست نه دی، او نه توافق د همېش لپاره د تأیید اساس جوړول پکار دي، بلکې دلته داسې څه اصول او ضوابط پکار دي چې هغه د خلکو ترمنځ د اختلاف او اتفاق دا دواړه اړیکې منظمی کړي، هغه اصول دا کېدلی شي:

الف- انسانان دې ته اړتیا لري چې د ټولو اختلافاتو سره ګډ ژوند ولري ، که مطلق اختلاف د خلکو د ګډ ژوند مانع وګرځول شي نو بیا هېڅ انسان له بل سره د ګډ ژوند امکانات نه لري، ځکه یو ډول نه یو ډول اختلاف موجود دی، نو اختلاف باید د خپل منځي سولییزاو ګډ ژوند مانع ونه ګرځی، او اختلاف تحمل کړی شي.

ب ـ عدل او انصاف: په دی معنا چې هر هغه څوك چې له تا سره په یو څه کې مختلف وي د کرکې او نفرت مستحق نه دی، بلکې هغه سره باید د عدل او انصاف فیصله وشي، که د هغه کوم کار د ستایلو وړ وي باید وستایل شي، که کوم کار یی د محکومولو وړ وي باید محکوم کړل شي، او کوم کار یې چې د نفرت وړ وي له هغه څخه نفرت وکړل شي، او دا تعامل باید یوازې د هغه چا سره نه وي چې په قوم، ژبه، هېواد ، سیمه، مذهب، حزب، تنظیم، رایې او فکر کې ورسره اختلاف ولري، بلکې د هغه چا سره هم وي چې په دغو ټولو کې ورسره ګډ او شریك وي.

ج ـ هر څه د حق په تله وتلل شي، په دی معنا چې دا ونه کتل شي چې دا عمل د چا دی، بلکې دا وکتل شي چې له حق سره څومره تړاو لري، که له حق څخه لیرې وي، نفرت ترې وشي او که حق وي او یا حق ته نږدې وي، تأیید یې وشي، همدا له نورو سره د تعامل اخلاقیات دي.

که چېرته څوك دا اخلاقیات مراعات کړي نو تر ډېره حده د تعصب د مرض څخه ځان ژغورلی شي، مګر که دا اخلاقیات مراعات نه کړي نو بیا د تعصب په مرض کې پریوتلی شي.

د فخري دارالعلوم او اقرا مدرسې د متعلمینو د لومړۍ دورې فراغت په یوه نمانځغونډه کې وستایل شو

اصلاح رسنیز ګروپ –حکمت الله ځلاند

د فخري عالي دارالعلوم او اقرأ مدرسې د زده کوونکو د لومړۍ دورې د فراغت په ویاړ، په کابل کې پراخه نمانځغونډه جوړه شوه.

په هغه غونډه کې چې د پنجشنبې په ورځ (د لیندۍ په ۲۸مه) په همدې مناسبت د کابل ښار په یوه هوټل کې جوړه شوې وه، یو زیات شمېر مخکښو دیني عالمانو، د پوهنې وزارت چارواکو، د بعثة الأزهرية ښوونیز مرکز مصري استاذانو، د دواړو یادو شوو روزنیزو ارګانونو زده کوونکو او د هغوی د کورنیو غړو، میندو او پلرونو او سلګونو نورو کابل ښاریانو ګډون کړی وو.

فخري عالي دارالعلوم کابو پنځه کاله مخکې په کابل ښار کې جوړ شوی، چې په همدې موده کې یې د کابل ښار په بېلابېلو سیمو کې نورې څانګې هم پرانېستې دي او دا مهال سلګونه ښځینه زده کوونکې دیني او عصري زده کړې پکې کوي، چې تر څنګ یې اقرأ روضة الأطفال مدرسه هم د ورته ښوونیز او روزنیز ارګان په توګه، سلګونه نارینه او ښځینه زده کوونکي لري او د دیني، عصري، اجتماعي او طبیعي علومو په برخو کې، په زده کړو بوخت دي.

د فخري عالي دارالعلوم د زده کوونکو د فراغت په لومړي پړاو کې، دا مهال کابو شلو تنو خویندو له اووم ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې اسلامي زده کړې بشپړې کړې دي.

د دغو دواړو مرکزونو د لومړۍ دورې متعلمینو د فراغت غونډه، د هېواد د پیاوړي قاري، برکت الله سلیم له خوا د کلام الله مجید د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره، د سهار په لسو بجو پیل شوه.

د پیل خبرې د فخري خصوصي عالي دارالعلوم مدیرې بي بي حلیمې وکړې، چې په خپلو خبرو کې یې د دغه دارالعلوم تأسیس او تر دې مهاله کړو فعالیتونو ته اشاره وکړه.

نوموړې وویل: "دغه دارالعلوم په هېواد کې د شته اړتیاوو له مخې، د ۱۳۸۷ لمریز کال د غبرګولي یا جوزا په څلورمه نېټه، د اسلامي علومو په برخه کې په ځانګړي ډول د ښځینه زده کونکو د روزنې په موخه، په کابل ښار کې د هېواد د وتلي عالم، شیخ القران مولوي عبدالسلام عابد له خوا تأسیس شو او د کابل ښار په کارتۀ پروان سیمه کې د ضیاءالدین فخري له خوا یوه ټوټه ځمکه ورکړل شوه او ودانۍ یې په دوو پوړونو کې جوړه شوه."

د هغې په وینا، دغه دارالعلوم په ۱۳۸۹ کال کې له پوهنې وزارت سره ثبت شو او له هغه وروسته یې، د خلکو د غوښتنو او لېوالتیا له مخې، د مدرسۀ اسماءالحسنی په نوم د فخري دارالعلوم لومړۍ څانګه د کابل ښار د خیرخانې مېنې په سیمه کې د حاجي وحیدالله په کور کې پرانېستله، چې تر هغه وروسته یې د مدرسۀ زینب الغزالي او سراج المنیر په نومونو دوې نورې څانګې هم د کابل ښار په بېلابېلو ځایونو کې پرانېستلې او دا مهال سلګونه ښځینه زده کوونکې زده کړې پکې کوي.

بي بي حلیمې وویل: "دغه راز څلور نورې تمهیدي مدرسې هم، د فخري دارالعلوم تر نظر لاندې په کابل ښار کې ښځینه زده کوونکې روزي او په مجموعي ډول د فخري دارالعلوم په بېلابېلو څانګو کې ۳۳۰ تنو زده کوونکو ته د ۳۰ تنو استاذانو له خوا زده کړې ورکول کېږي او په تمهیدي مدرسو کې هم کابو ۵۰۰ زده کوونکو ته د ۴۵ تنو استاذانو له خوا زده کړې ورکول کېږي."

د اقرأ روضة الأطفال د مدرسې استازي منهاج الدین وهاج بیا د دغې مدرسې د مؤسس، حاجي ګل احمد وردګ ، پیغام د غونډې ګډونوالو ته واوراوه او زیاته یې کړه، چې د دغې مدرسې له جوړولو څه دپاسه درې کاله کېږي؛ خو لاسته راوړنې یې ډېرې زیاتې دي.

نوموړي وویل: " دغه مدرسه چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې د ګل احمد خان مشهور په حاجي وردګ له خوا جوړه شوه، دا مهال ۱۰۰۰ تنه زده کوونکي لري، چې ۵۵۰ تنه یې ښځینه او ۴۵۰ تنه یې نارینه دي او په څلوروبرخو کې (شرعي، ادبي، ټولنیزو او طبیعي علومو) په برخو کې په زده کړو بوخت دي."

هغه زیاته کړه، چې دغو زده کوونکو ته د ۵۰ تنو ښځینه او نارینه استادانو له خوا په جلا جلا ډول زده کړې ورکول کېږي او د بې وزله زده کوونکو ټول لګښتونه هم د مدرسې اداره ورکوي.

د فخري عالي دارالعلوم مؤسس شیخ القران مولانا عبدالسلام عابد په خپلو خبرو کې وویل: "په افتخار سره ویلای شو، چې کومې خویندې چې له دارالعلوم څخه فارغې شوې دي، تکړه عالمانې

دي؛ ځکه په تفسیر، حدیث، صرف، نحو او نورو علومو کې پوره رسېدلې دي."
مولوي عبدالسلام عابد زیاته کړه: چې "د ښځینه وو روزنې ته مو له دې امله لومړیتوب ورکړ، چې په دې برخه کې په هېواد کې کار نه دی شوی او هڅه مو دا ده، چې د دغه مهم دیني مرکز څانګې د افغانستان ټولو سیمو ته ورسوو."
هغه د دغه دارالعلوم د زده کوونکو په تېره فارغو شوو زده کوونکو له کورنیو هم د زړه له کومې مننه وکړه او ویې ویل، چې هغوی د دغو زده کوونکو د روزنې لپاره له پوره زغم څخه کار اخېستی او هره ورځ به، کابو اووه ساعتونه هغوی په دغه دارالعلوم کې زده کړې کولې.
نوموړي زیاته کړه، چې دغه دارالعلوم په پام کې لري، چې په راتلونکي لمریز کال (۱۳۹۳) کې د دیارلسم ټولګي په چوکاټ کې، د حدیثو دوه کلنه دوره هم پیل کړي.
د پوهنې وزارت د اسلامي تعلیماتو معین دوکتور محمد شفیق صمیم په خپلو خبرو کې د پوهنې د وزیر فاروق وردګ په استازیتوب د دغو زده کوونکو د فراغت د مبارکۍ پیغام، د غونډې ګډونوالو ته ورساوه او زیاته یې کړه، چې په تېرو کلونو کې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د ښځینه وو لپاره مدرسې او دارالمعلمینونه جوړ شوي او په دې برخه کې ډېر پرمختګ شوی دی.
ښاغلي صمیم زیاته کړه:"هیله من یو، چې په راتلونکي کې داسې ښځینه کدرونه ولرو، چې مؤسسې او بنسټونه پرمخ بوزي او له اوسني وضعیت څخه، چې د ښځینه او نارینه وو له خوا په ګډ شکل سره د ځینو مؤسسو کارونه مخته وړل کېږي، راووځو."
د غونډې بل ویناوال د جمعیت اصلاح افغانستان د مرکزي شورا رئیس نصیر احمد نویدي ؤ، چې په خپلو خبرو کې یې د دغو دواړو مرکزونو خدمتونه د قدر وړ وبلل او د دارالعلوم له فارغو شوو خویندو یې وغوښتل چې ترلاسه کړی علم تر نورو وروسوي او خپل دغه مهم مسؤولیت اداء کړي.
استاذ نویدي زیاته کړه: " ستاسو اصلي رسالت له نن ورځې وروسته پیلېږي، چې څنګه دا خپل علم په نافع او ګټور علم بدل کړئ؛ ځکه څوك چې علم ولري او تر نورو یې ورونه رسوي، دا لویه جفا او ګناه ده."
نوموړي له خلکو وغوښتل، چې له هغه فکر سره چې ګواکې زده کړې یوازې د نارینه وو کار دی، مبارزه وکړي او د ښځینه وو زده کړو ته پوره پاملرنه وکړي؛ او تر څنګ یې د فارغو شوو خویندو له کورنیو هم وغوښتل، چې د دغو فارغو شوو خویندو ملاتړ او ساتنه وکړي او هغوی ته جرأت ورکړي، چې د دعوت په لاره کې خپل مسؤولیت ترسره کړي.

استاذ نویدي د دې ترڅنګ، له شتمنو هېواد والو وغوښتل چې له مدارسو سره مرستې وکړي؛ ځکه په ټولو سیمو کې مدارس له مالي ستونزو سره مخامخ دي.
غونډې ته د البعثة الأزهرية مصري رئیس استاذ نصیرالدین احمد

علي شعبان هم وینا وکړه او د نجونو او هلکانو د عربي ترانو د ډلو د ستاینې تر څنګ یې، په خپلو خبرو کې د روزنې پر اهمیت ټینګار وکړ او ویې ویل: چې د یوې ودانۍ جوړول اسانه کار دی؛ خو د فکرونو جوړول بیا ډېر سخت کار دی او زیار ایستل غواړي.
نوموړي د ښځینه وو پر زده کړو او روزنې په ټینګار سره وویل: ښځه د ټولنې نیمایي برخه ده او د ټولنې پیاوړي کسان یوازې او یوازې د صالحو مېرمنو له خوا روزل کېدای شي او روزل کېږي.
هغه د دغو دوو روزنیزو ارګانونو د جوړولو ګام په افغانستان کې د یوه زېري په توګه یاد کړ او د هغوی د لومړۍ دورې د فراغت مبارکي یې وویله.
په دغه غونډه کې د فخري دارالعلوم د تراني د ښځینه ډلو او د اقرأ مدرسې د ترانې د نجونو او هلکانو ډلو په زړه پورې ترانې هم واورولې، چې د غونډې د ګډونوالو له خوا یې پوره ستاینه وشوه.
د غونډې په پای کې څو پایې لپ ټاپ کمپیوټرونه، د بخاري شریف دورې او ځینې نور کتابونه او ډالۍ، چې د جمعیت اصلاح له خوا او د پوهنې وزارت د اسلامي تعلیماتو د معین دوکتور شفیق صمیم او نورو له خوا برابرې شوې وې، د فخري دارالعلوم فارغو شوو خویندو او د اقرأ مدرسې فارغو شوو نجونو او هلکانو ته ورکړل شوې.
د یادولو وړ ده، چې په هېواد کې په تېرو کلونو کې د ښوونې او روزنې په برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي؛ خو اسلامي زده کړو او مدارسو ته، په تېره بیا په دې برخه کې د ښځینه وو روزنې او زده کړو ته هومره پاملرنه نه ده شوې، چې د دغو مرکزونو او اړوندو څانګو له خوا یې روزل کېدونکې نجونې او هلکان تر ډېره پورې هغه د خوښۍ ګامونه دي، چې په دې برخه کې یې د پام وړ بدلون راوستلی دی او ډېری هېوادوال خوښې پرې څرګندوي. پای

جمعیت اصلاح افغانستان

دفتر ساحوی لوگر

مسابقه اسلام شناسی

جوایز:

۳ عراده بایسیکل

۳ پایه ماشین خیاطی

۴ سیت موبایل

۱۰ بسته کتاب دینی

محل ثبت نام:

۱ـ مرکز:

- معاینه خانه داکتر عبدالقدوس احمدی 0799476913
- کتاب فروشی سادات
- کتاب‌فروشی عتیق الله نیازی

۲ـ محمدآغه: 0775413876

کتاب فروشی امام ابو حنیفه(رحمه الله) بازار و اغجان

مکان امتحان:

۱ـ مرکز ولایت لگر، مسجد جامع عبدالله بن مسعود (رض)

۲ ـ ولسوالی محمد آغه مسجد جامع عید گاه مغل خیل

تاریخ امتحان:

۲۹ حوت ۱۳۹۲ هـ ش

روز پنج شنبه / ۱ بجه بعد از ظهر

جمعیت اصلاح افغانستان

۶ جدی

اشغال افغانستان

کنفرانس علمی: ۶ جدی روز تجاوز قشون سرخ بر افغانستان

موضوعات کنفرانس:

- **پس منظر تاریخی ٦ جدی، عوامل و اسباب آن**
- **تاثیرات و پیامدهای استعمار**
- **چهره های اشغال از دیروز تا امروز**

وقت: روز جمعه ٦ جدی از ۲ الی ۳:۳۰ عصر

رادیو صدای اصلاح: 104.3 FM

www.eslahonline.net

آدرس: دفتر ساحوی جمعیت اصلاح خوشحال مینه عقب بلاک های شاداب ظفر

0786 94 86 03 - 0773 890 950

هند ته د ولسمشر کرزي وروستی سفر؛

موخې او لاسته راوړنې

اصلاح رسنیز ګروپ - حکمت الله ځلاند

افغان ولسمشر حامد کرزي وروسته له هغه، چې له امریکا سره یې د امنیتي تړون لاسلیك کول له یو لړ شرطونو سره وتړل، کابو د یوې اوونۍ په اوږدو کې د سیمې دوو مهمو هېوادونو(ایران او هند) ته پرله پسې سفرونه وکړل.

نوموړي هند ته خپل څلورورځنی سفر،چې مهمه موخه یې له هغه هېواده افغان پوځ ته د وسلو او تجهیزاتو غوښتنه بلل شوې، له لاسته راوړنو ډك وباله؛ خو یو شمېر د نظر خاوندان بیا په دغه سفر کې کومه د پام وړ لاسته راوړنه نه ګوري. افغانستان ته دامریکا اوناټو له راتګ او د حامد کرزي د حکومت له جوړېښت وروسته، هند د افغانستان نژدې دوست بلل کېږي او په بېلابېلو برخو کې یې له افغانستان سره مرستې هم کړې دي، چې ولسمشر هم د خپل دغه وروستي سفر پر مهال،د هند له مرستو مننه وکړه او زیاته یې: کړه چې هند د ده له هېواد سره کابو دوه میلیارده ډالره مرسته کړې ده.

هند که څه هم له افغانستان سره ګډه پوله نه لري او د افغانستان ګاونډی نه دی؛ خو په تېره لسیزه کې یې تودې اړیکې پاللې دي او تېر کال د دواړو هېوادونو د اړیکو د پراختیا په موخه، ستراتېژیك تړون هم لاسلیك شو، چې تر هغه وروسته لسګونه افغان پوځي افسران هم په هند کې وروزل شول او لاهم دا لړۍ دوام لري.

نوي ډېلي ته دسفر په دویمه ورځ، ولسمشر کرزي د هند له لومړي وزیر منموهن سنګ او ولسمشر پراناب موکرجي او ځینو نورو چارواکو سره وکتل او د ځینو نورو موضوعاتو په اړه د خبرو تر څنګ یې، د دغه هېواد ولسمشر ته کابل ته د سفر بلنه هم ورکړه.

دغه راز ولسمشر کرزي په نوي ډېلي کې له یو شمېر هندي سوداګرو او پانګوالو سره هم وکتل او هغوی یې په افغانستان کې پانګونې ته راوبلل، چې د ولسمشرۍ مانۍ د خبرپاڼې له مخې هندي سوداګرو هم په دې اړه لېوالتیا ښودلې او ویلي یې دي، چې افغانستان ته به یو پلاوی واستوي.

د دې ترڅنګ ښاغلي کرزي هند ته د خپل تېرځل سفر پر مهال هم د سپکو او درنو وسلو او نورو پوځي تجهیزاتو یو نوملړ سپارلی ؤ او له هغوی څخه یې په دې برخه کې د مرستې غوښتنه کړې وه، چې دا ځل که څه هم ولسمشر کرزي ډاډ څرګند کړ، چې هندي چارواکو د افغان پوځ د سمبالتیا لپاره چمتووالی ښودلی دی؛ خو داسې راپورونه هم خپاره شوي دي، چې ګواکې هند له افغانستان سره یوازې د سپکو او نه وژونکو تجهیزاتو د مرستې ژمنه کړې ده.



د دغه سفر پر مهال، د افغان ولسمشر او هندي چارواکو تر منځ، په هند کې د افغان پوځي افسرانو د عالي زده کړو او روزنې پر سر هوکړه وشوه؛ خو هندي رسنیو د دغه هېواد د چارواکو له خولې ویلي، چې هندي چارواکي د ځینو اندېښنو له مخې، نه غواړي چې افغانستان ته درنې جګړه ییزې وسلې په واك کې ورکړي.

خو په نوي ډېلي کې د افغانستان سفیر شیدا محمد ابدالي بیا ویلي، چې هند د وسلو له ورکړې سره هوکړه کړې ده او د دواړو هېوادونو پوځي تخنیکي ډلې به، د سپکو او درنو وسلو پر هغه نوملړ کار وکړي، چې افغان حکومت هند ته سپارلی دی.

د هند د بهرنیو چارو وزارت د دغه نوملړ په اړه له څه ویلو ډډه کوي؛ خو ویل کېږي چې ولسمشر کرزي په دغه نوملړ کې د سپکو او درنو وسلو، الوتکو او نورو جګړه ییزو مهماتو غوښتنه کړې ده.

د ځینو راپورونو له مخې، هند پرېکړه کړې چې افغانستان ته ترراتلونکې میاشتې پورې دوې ترانسپورتي چورلکې ورکړي؛ خو د نورو وسلو د ورکړې په تړاو اوس هم چوپه خوله دي.

دا غوښتنه داسې مهال کېږي، چې هند او روسيې په افغانستان کې د وسلو د ترميم د فابريکې د بيافعالولو لپاره هم لېوالتيا ښودلې او د افغانستان دفاع وزارت هم، د دغو هېوادونو د دې ګام هرکلی کړی او د دغه وزارت چارواکي وايي: چې له نامسؤولو کسانو څخه د راټولو شوو وسلو ډېره برخه ترميم ته اړتيا لري.

بلخوا ولسمشر کرزي په نوي ډيلي کې د خپلو خبرو پر مهال يو ځل بيا له امريکا سره د امنيتي تړون د لاسليك په اړه پر خپل دريځ ټينګار وکړ او ويې ويل: چې له افغانستان څخه د بهرنيو پوځيانو د بشپړ ايستلو خبره يوازې د امريکا له خوا د فشار يوه وسيله ده او نور يې نو پر امريکا باور بايللی دی؛ ځکه امريکا وايي يو څه او کوي بل څه. که څه هم حامد کرزي هند ته تر سفر يوه ورځ مخکې ويلي ؤ، چې د امنيتي تړون د لاسليك په اړه به د هېچا فشارونه ونه مني، هندي چارواکو له ولسمشر کرزي څخه د دغه سفر پر مهال غوښتي، چې له امريکا سره امنيتي تړون لاسليك کړي؛ له دې سره هم مهاله امريکايي چارواکو هم هيله مني ښودلې وه چې ښايي هندي چارواکي به ولسمشر کرزی وهڅوي چې د امريکا او افغانستان تر منځ امنيتي تړون لاسليك کړي.

خو دا چې په ټول کې د دغه سفر د پام وړ لاسته راوړنې څه وې، په اړه يې د ولسي جرګې غړی او دسياسي چارو شنونکی سيد حسين عالمي بلخي وايي: "يقيناً دا سفر له لاسته راوړنو خالي نه دی؛ ځکه د افغانستان او هند ترمنځ د ستراتېژيکو همکاريو هوکړه ليك مخکې لاسليك شوی دی او دواړه داسې هېوادونه دي، چې له يو بل سره اوږدمهالې همکاری لري."

د عالمي بلخي له نظره دا مهمه نده چی هند دم ګړی له افغان ولسمشر سره د درنو اوپرمختللیو وسلو له ورکړې انکار کړی ،ځکه د ده په اند همدا چې هندوستان د سپکو وسلو د مرستې په کچه کې چمتو دی او غواړي چې افغان ځواکونو ته روزنه ورکړي، په اوسنيو شرايطو کې يو مثبت ګام دی او همدغه کمې همکاری ورو ورو پراخوالی مومي او که په راتلونکي کې دوی ته څه زيان متوجه نه وي، ښايي نورې همکاری هم له افغانستان سره وکړي.

خو دا چې هند ته د ولسمشر کرزي دغه سفر د وخت له نظره په حساس پړاو کې ترسره شو، داسې چې له يوې خوا د ولسمشرکرزي اوامريکا ترمنځ دامنيتي تړون دلاسليك موضوع لاتجمنه شوې او بل پلو تر دې سفر لنډه موده وړاندې د پاکستان لومړی وزير نوازشريف کابل ته يوه ورځنی سفر درلود ،په دې اړه عالمي بلخي وايي: "سياسي اړيکې يواړخې نه وي، تل بېلابېل

اړخونه لري او دا سفرونه او سياسي تعاملات پر بېلابېلو اړخونو باندې له اغېز څخه خالي نه دي."

نوموړی زياتوي: چې د ولسمشر دا سفر به هم د امنيتي تړون په اړه اغېزناك وي؛ ځکه د ولسمشر له دغو سفرونو څخه، چې ايران ته يې سفر وکړ او بيا يې هندوستان ته سفر وکړ، موخه يې له افغانستان سره همکاريو ته د دغه هېوادونو هڅول وو دهغوی ارزول و ، ترڅو پوه شي چې له امريکا سره امنيتي تړون لاسليك کړي او کنه.

خو د سياسي چارو بل کارپوه مياګل وثيق بيا د ولسمشر په دغه سفر کې کومه د پام وړ لاسته راوړنه نه ګوري او وايي: چې هندوستان د هغو غوښتنو منلو ته چمتو نه شو، چې ولسمشر کرزي له هغوی څخه کړې وې.

نوموړی وايي: "دا چې هند له امريکا سره ستراتېژيك توافقات لري او له هغوی سره نژدې اړيکې لري، نو نه غواړي چې دلته د امريکا د حضور له امله دا کار وکړي او بلې خوا ته، دوی په دې هم پوهېږي چې که دا کار وکړي، نو پاکستان هم په دې سره غبرګون ښيي او پر دې سربېره هندوستان د داسې مرستو وړتيا هم نه لري."

د ده په وينا ، پاکستان هم په افغانستان کې د هند له هر ډول سياسي، اقتصادي او پوځي حضور سره مخالف دی او په دې اړه ستونزې او خنډونه جوړوي.

ښاغلی وثيق د دې پوښتنې په ځواب کې چې په افغانستان کې ناټو ځواکونه له څو کلونو راهيسې پراخ حضور لري او د افغان ځواکونو پر روزنه او سمبالولو بوخت دي او د همدې موخې لپاره په افغانستان کې پاتې کېږي، په داسې وخت کې له هند څخه د پوځي مرستو غوښتنه ډېره عجيبه نه ښکاري؟ وايي: "واقعاً عجيبه ده، زه فکر کوم چې ښاغلی ولسمشر هم په دې پوهېږي، چې هند دغه وړتيا او توان نه لري او بيا په دې وخت کې خو بېخي نه حاضرېږي چې له افغانستان سره داسې مرسته

وکړي، دی غواړي چې د سیمې هېوادونو ته په سفرونو سره، پر متحده ایالاتو یو ډول فشار وارد کړي."

دا چې پر پاکستان به د دغه سفر اغېز څه وي، په اړه یې ښاغلی وثیق وایي: "زه فکر کوم چې د پاکستان حکومت که نوی دی او که پخوانی وي، د ګاونډیانو او د سیمې د هېوادونو په اړه خپله ځانګړې پالیسي او ستراتېژي لري او پر هغې باندې هېڅ اغېز نه لري او افغانستان چې له نړۍ سره هرڅنګه تعاملات ولري، دوی خپله ستراتېژي ورسره عیارولی شي او عیاروي یې."

بلخوا په بهرنیو چارو کې د پاکستان د لومړي وزیر نوازشریف سلاکار سرتاج عزیز هم څو ورځې مخکې ویلي وو، چې هند او

ایران ته پکار دي، چې په افغانستان کې د کومې ځانګړې ډلې ملاتړ ونه کړي او دا چې د افغانستان او پاکستان تر منځ په وروستیو پېښو، لکه د ختیځ ولایت ننګرهار په ګوشتې ولسوالۍ کې رامنځته شوې پېښه او یا پر ختیزو ولایتونو د پاکستان توغندیزو بریدونو سره، له هند څخه د پوځي مرستو غوښتنه تر کومه پورې تړاو لري؟

په اړه یې لیکوال، ژورنالیست او د ولسي جرګې غړی حفیظ منصور وایي: "زه فکر کوم چې څومره ډېر تړاو به ورسره ونه لري؛ ځکه پاکستان له ډېر پخوا راهیسې په افغانستان کې لاسوهنه کړې ده او موږ هندوستان ته په نه تګ سره، د پاکستان رضایت نه شو ترلاسه کولای؛ بلکې د دې پر ځای باید له نړۍ سره خپلې اړیکې نورې هم پراخې کړو، ترڅو پاکستان ته لاسوهنه او مداخله ګرانه شي."

له بلې خوا نوموړی وایي: چې هند ته د ولسمشر کرزي سفرله امریکاسره د امنیتي تړون له اړخه هم مهم و؛ ځکه چې د هېواد په دننه کې هم که نوموړي ته د یوه معامله ګر کس په سترګه وکتل شي او په بهر کې هم د یوه داسې کس په توګه چې ګویا د امریکا په مرسته ډګر ته راغلی دی، نو د ګاونډیو هېوادونو مصالح یې پام کې نه دي نیولي.

ښاغلی منصور وایي:

دا چې هندي چارواکو له ولسمشر کرزي څخه غوښتي، چې له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړي، هم یوه لاسته راوړنه بلل کېدای شي.

دا چې که هندوستان له افغانستان سره پوځي مرستې کوي، دا مرستې به په کومه کچه کې وي؟ د حقوقي او ټولنیزو خدماتو د مؤسسې مشر او د سیاسي چارو شنونکی محمد ابراهیم حسن وایي: چې هند به ښایي یوازې د سپکو وسلو یا مهماتو مرسته وکړي؛ خو درنې وسلې به د افغانستان په واک کې ورنه کړي؛ ځکه د ده په وینا، په اړه یې ځینې حساسیتونه، لکه له پاکستان سره د دوی اړیکې او داسې نور څه هم شته دي.

ښاغلی حسن زیاتوي: "که د پوځي مرستو غوښتنه د پاکستان لپاره د ځواب په ډول ترسره کېږي؛ نو دا یو ښه ځواب نه شي کېدای او پاکستان چون زموږ ګاونډی دی، باید له نورو دیپلوماتیکو لارو څخه له هغوی سره چلند وکړو او دا لار به ښه پایله ونه لري."

د ده په وینا، ښایي هندوستان ته به د سفر له امله، له امریکا سره د امنیتي تړون په اړه هم د ولسمشر په دریځ کې نرمښت راغلی وي او د هندي چارواکو سلامشورو یا فشارونو به خپل اغېز درلودلی وي.

نوموړی زیاتوي: چې په ټول کې دغه سفر کومې د پام وړ لاسته راوړنې نه لرلې او ولسمشر کرزي یوازې د یوه مانور په ډول دغه سفرونه ترسره کړل، ترڅو په یو ډول پر امریکا فشار وارد کړي او بیا هند ته خو په داسې پړاو کې او له داسې غوښتنو سره د نوموړي سفر د پاکستان او افغانستان پر اړیکو هم اغېز لري او له دې پرته خو کومې غوښتنې چې ولسمشر کرزي له هندوستان څخه درلودې، هغوی د خپلو ګټو له مخې له امریکا سره له تفاهم پرته، نه غواړي چې هغسې مرستې وکړي.

د سیمې د چارو یو شمېر څارونکي په دې اند دي، چې په دې وروستیو کې د افغانستان او هند دارنګه اړیکو او نژدېوالي اسلام آباد هم اندېښمن کړی دی؛ نو ځکه نوی ډیلی او کابل په احتیاط سره ګام اخلي، ترڅو یې پاکستان خپلو ګټو ته ګواښ ونه ګڼي.

اعدام "عبدالقادر ملا"؛ دشمني با پاکستان یا همزباني با استعمار؟

احمدضیاء رحیمزی

آنچه شام پنجشنبه ۱۲ دسامبر سال جاری در یک زندان شهر "داکه" پایتخت کشور فقرزده و استعمار گزیده بنگلدیش اتفاق افتاد، هرچند خیلی درد ناک وغم انگیز بود، ولی به هر صورت برای عده زیادی که از مدت هاست آزمون های مختلفی را فرا راه نهضت های اسلامی در گوشه واکناف جهان اسلام مشاهده می کنند، خیلی تعجب آور نبود.

حکومت سیکولار حسینه واجد، صدراعظم کنونی بنگلدیش بالاخره به آرزوی دیرینه خود رسید وتوانست به شکل خیلی بی انصافانه وبدورازهر نوع حق وعدالت استاد عبدالقادر ملا، فرد شماره دوم در نهضت اسلامی آن کشور را به دار بیاویزد؛ ولی پرسش این است که آیا براستی عبدالقادر ملا وسایر رهبران جماعت اسلامی بنگلدیش همچو پروفیسور غلام اعظم وده ها تن دیگر که هم اکنون در زندان های نظام بنگلدیشی شب وروز را به انتظار رهایی یا پیوستن به خالق یکتای شان سپری می کنند، اعمالی را که امروز وبا گذشت ۴۲ سال از تجزیه پاکستان وایجاد کشوری بنام بنگلدیش به سرپرستی مستقیم هند، به آنها نسبت داده می شود، انجام داده اند یاخیر؟

کشتار ها، زندان ها وشکنجه ها برای رهروان راه سربلندی اسلام وفرزندان تحریک های اسلامی در هیچ گوشه ای از جهان پدیده ی نا آشنا نیست وحتی در کشوری چون بنگلدیش قبل از شهید پروفیسور عبدالقادر ملا، شهادت سران دیگر این نهضت چون دلوار حسین سعیدی وهمچنان به غل وزنجیر کشیدن پروفیسورغلام اعظم را تجربه کرده اند ودم حاضر هم صد ها تن از همنوایان تحریک اسلامی این کشور، در زندان ها به سر می برند!

حکومت سیکولار بنگلدیش به رهبری حسینه واجد، دختر شیخ مجیب الرحمن که پاکستان شرقی را در سال ۱۹۷۱ از بدنه پاکستان جدا شده از هند جدا ساخت، در سال ۲۰۱۰ میلادی محکمه ایرا بنام بررسی جرایم جنگی درزمان استقلال بنگلدیش ایجاد کرد که از همان آوان بیشترین نشانه این محکمه قلابی ونا عادلانه افراد منسوب به نهضت اسلامی بنگلدیش بودند، آنانیکه یک عمر را در جامعه بنگلدیشی در راستای احیای فرهنگ اسلامی و جمع آوری مسلمانان بنگالی در زیر یک چتر متحد تلاش به خرچ دادند ودر این راستا شب و روز را بر خود یکی ساختند.

شهید عبدالقادر ملا در سال ۱۹۴۸ یعنی درست یکسال بعد از تجزیه هند بریتانوی به دو کشور هند وپاکستان ، در فرید آباد بنگلدیش چشم به جهان گشود واز آوان جوانی به مطالعه آثار شهید سید قطب رو آورد و سپس با آشنایی با نظریات امام مودودی "رح " به صفوف جماعت اسلامی پیوست که در نیم قاره هند و پاکستان وحتی در ساحه وسیعی از جنوب شرق آسیا ، نظریات ومفکوره های همانند شهید سید قطب و شهید امام حسن البنا را تعقیب وتطبیق می کرد.

دررسانه های مختلف از قول پسر شهید پروفیسورعبدالقادر ملا، در آخرین ملاقات با اعضای خانواده اش نقل شده است که موصوف با سکون وراحت تمام اظهار داشت که پس از یک عمر خدمت در راستای اعلای کلمهٔ الله ، اکنون مرگ شهادت به خاطر نظریات وافکار اسلامی ، برایش افتخار است.

ویقیناً این گونه موضع گیری همان چیزی است که باید از یک سپاهی سرسپرده دعوت ونهضت اسلامی از مصرگرفته تا سریلانکا وبنگلدیش توقع داشت وبدون هر گونه شک وتردید یگانه گناه افرادی چون عبدالقادرملا،پروفیسورغلام اعظم وسایر اراکین جماعت اسلامی بنگلدیش تنها وتنها این است که پرستش خدای یکتا را بر پرستش جبر وطاغوت ترجیح داده بودند.

شعبان عبدالرحمن نویسنده وژورنالیست شهیر مصری ومدیر منتظم مجله المجتمع در یک مقاله خود راجع به شهادت عبدالقادر ملا چه زیبا می نویسد: " آنچه هم اکنون در کشور مسلمان بنگلدیش می گذرد کاملاً شبیه به آنچه است که در کشور مصر می‌گذرد، وهدف این همه پیاده نمودن همان طرح‌های ضد اسلامی است که ابرقدرت‌های جهان به لیبرال‌ها و ناسیونالیست‌ها و سیکولارهای مزدورشان در کشورهایی همچون میانمار و سریلانکا و کشورهایی دیگر در سایر نقاط جهان دیکته می‌نمایند که وجه مشترک همه آن دیکته‌ها عبارت است از جنگیدن و مبارزه با اسلام و هویت مسلمانان، و آن جنگی است که روز به روز بر شدت و وحشت آن افزوده می‌شود".

یقین کامل داریم که آنچه در بنگلدیش می گذرد هیچ گاهی نمی تواند بی ربط به مسایلی باشد که در سایر نقاط جهان اسلام از مصر گرفته تا میانمار وسریلانکا بر مسلمان مظلوم می گذرد، ولی آیا در سراسر جهان اسلام داد گاه خواهی وجود دارد که بتواند این ظلم وستم جنایت کارانه واستعمار گرانه را از مسلمانان بدور سازد ؟

وقتی رهبران نهضت اخوان المسلمین و یک رئیس جمهور منتخب در مصر با اتهام های واهی چون همکاری با حماس وخیانت به کشور خود! از سوی ارتشیان مزدور به زندان انداخته می شوند وهزاران تن از پیرو جوان، زن و مرد که در حمایت از حکومت ورئیس جمهور منتخب شان به جاده ها ریخته اند به خاک وخون کشانیده می شوند، پس حتماً باید در بنگلدیش هم گروه حاکم وسیکولار که از سالهاست به پیروی از استعمارگران غربی مواد اسلامی قانون اساسی کشور شان را تغییر داده وبنگلدیش را یک کشور سیکولر معرفی می نماید، پیرمردی نود ساله ایرا به نود سال زندان محکوم سازد وپروفیسور ۶۵ ساله دیگری را به اتهام جرایمی که ۴۲ سال قبل از امروز صورت گرفته وهیچ ربطی هم به آنها ندارد، به پای دار بکشد!

حال اگر عدالتی در جهان وجود داشته باشد، یا حد اقل مغز سلیم در سری موجود باشد ، باید اندکی بیندیشد که آیا حیثیت و وجهه دینی رهروان نهضت های اسلامی از مصر وتونس گرفته تا بنگلدیش اجازه خواهد داد تا در جنایاتی شریک باشند که دادگاه ها ومحاکم خود ساخته حکومت های مستعمره علیه آنها قلمداد می کنند؟ شهادت عبدالقادرملا واعدام سفاکانه این بزرگمرد از این جا هم دنباله جنایات و وحشت نابخردانه گروه های سیکولر پنداشته می شود که درست همان گونه که نهضت های اسلامی وعناصر صلح دوست ومسلمان در سراسر جهان از اعدام این رهبر فرزانه نا خشنود وخشم گین شده اند، برعکس آن، حلقات سیکولر ومزدوران استعمار در سراسر جهان وحتی افغانستان ما ، از بدار آویخته شدن عبدالقادر ملا، به این عنوان خرسند به نظر می رسند که گویا به زعم آنها عبدالقادر ملا جاسوس پاکستان وقاتل هزاران هموطن خود بود و بالآخره به چوبه دار آویخته شد.

اگر بپذیریم که فرزانه گانی چون پروفیسور غلام اعظم وشهید پروفیسور عبدالقادر ملا، به گفته حاکمان سیکولار بنگلدیش درجنایات جنگی ۴۰ سال پیش دست داشتند ودر قتل، کشتار وحتی تجاوز به نوامیس مردم دخیل بودند، وبه همین دلیل هم یکی به نود سال حبس ودیگری به پای دار آویخته شد، پس شبکه ماهواره یی و تلویزیونی جماعت اسلامی بنگلدیش به چه جرمی چند روز پس ازاعدام خاینانه عبدالقادر ملا توسط حاکمان زور گوی بنگدیش مسدود می گردد؟

چنانچه به گزارش سایت انترنتی "مفکرۀ الاسلام" حکومت بنگلدیش در ادامه ایجاد محدودیت در مقابل فعالیت‌های جماعت اسلامی این کشور، به مسدود کردن شبکه "اسلام تی وی"، شبکه ماهواره ای متعلق به این جماعت نیز پرداخت.

با توجه به این همه واقعات واتفاقات، می توان درک کرد که هراس از پیشروی چشم گیر اسلام وتحریک های اسلامی در جهان امروزه، چیزی است که حاکمان جابر وخدا ناترس اکثر کشورهای اسلامی ودر برخی حالات به گونه مشخص استعمارگران غربی را به لرزه در آورده ویگانه راه سرکوب این موج بیداری اسلامی وسد نمودن راه آنرا دراین گونه اعمال جستجو می کنند.

ولی با این همه، عکس العمل رجب طیب اردوغان صدراعظم ترکیه درمورد شهادت عبدالقادر ملا، خیلی ها را به این امید وار می سازد که در پهنایی از خیانت واستعمار زده گی راد مردان مستقل و استعمار ستیزی نیز هستند که هر از گاهی در برابر مظالم استعماری بر مسلمانان و کشور های اسلامی صدای خود را بلند نموده اند واین روش مردانه را ادامه خواهند داد.

به نظر ما باید مسلمان جهان با یک صدا وبا اتحاد کامل این حرف اردوغان را زمزمه کنند که گفته است : " اعدام عبدالقادر ملا اشتباهی بود که تاریخ آنرا فراموش نخواهد کرد."

جرمی را که امروز به اتهام آن پروفیسور غلام اعظم نود ساله به نود سال حبس محکوم می شود و شهید دلوار حسن سعیدی،شهید عبدالقادر ملا وصد ها تن دیگر از سران واعضای جماعت اسلامی بنگلدیش به اتهام آن اعدام می شوند درحقیقت آنچه نیست که حکومت سیکولر" حسینه واجد" از آن یاد آوری می کند وآنرا به تاریخ ۴۲ سال قبل این کشور ربط می دهد، بلکه جرم این افراد ومیلیون ها همفکر وهمنظر آنها درسراسر کره خاکی ، پیروی از راه حق وبریدن از استعمار باطل است وبه یقین که رهروان این راه چه زنده وچه مرده خوشبخت اند ونام های زرین شان اوراق تاریخ این امت را تا نسل های آینده مزین خواهد ساخت.

با توجه به این همه واقعات واتفاقات، می توان درک کرد که هراس از پیشروی چشم گیر اسلام وتحریک های اسلامی در جهان امروزه، چیزی است که حاکمان جابر وخدا ناترس اکثر کشورهای اسلامی ودر برخی حالات به گونه مشخص استعمارگران غربی را به لرزه در آورده ویگانه راه سرکوب این موج بیداری اسلامی وسد نمودن راه آنرا دراین گونه اعمال جستجو می کنند.

ولی با این همه، عکس العمل رجب طیب اردوغان صدراعظم ترکیه درمورد شهادت عبدالقادر ملا، خیلی ها را به این امید وار می سازد که در پهنایی از خیانت واستعمار زده گی راد مردان مستقل و استعمار ستیزی نیز هستند که هر از گاهی در برابر مظالم استعماری بر مسلمانان و کشور های اسلامی صدای خود را بلند نموده اند واین روش مردانه را ادامه خواهند داد.

به نظر ما باید مسلمان جهان با یک صدا وبا اتحاد کامل این حرف اردوغان را زمزمه کنند که گفته است : " اعدام عبدالقادر ملا اشتباهی بود که تاریخ آنرا فراموش نخواهد کرد."

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

گلبرګهای ادب

یو سړي اصیل آس لرلو؛ آس په خلکو کې خورا زیات شهرت موندلی ؤ. یو کس چې له دې آسه خبر شو نو د آس د غلا کولو هوډ یې وکړ؛ دې سړي پرېکړه وکړه چې دا آس به زه له دې سړي پټوم او یا به یې ترې تښتوم نو پلان یې جوړ کړچې کله د آس څښتن په آس سپور په دې لاره تېریږي نو ځان به ورته یو معذوره او محتاجه وښایي، څو د آس څښتن ورسره مرسته وکړي.
نوموړی سړی په لاره کې د آس څښتن ته کښېناست او ځان یې معذوره کړ، د آس څښتن چې دغه سړی «هغه چې ځان یې په چل معذوره کړی ؤ» ولید، د آس څښتن په دې سړي د ببچاره او معذوره کس ګومان وکړ، زړه یې پرې درد وکړ او آس یې ورته ودراوه؛ له ځانه سره یې په آس سپور کړ او روان شو. له څه اندازې سفر وروسته شاته کس«غل» ځان ښه تابیا کې کړ او د آس څښتن یې له آسه وغورځاوه او آس یې ترې وتښتاوه.
د آس څښتن له شا ورپسې غږ وکړ چې لږ ودرېږه، یوه خبره درسره لرم، آس ستاسو شو، خو یوه غوښتنه درڅخه کوم:
آس تښتوونکي وویل: وایه څه غوښتنه لرې؟
د آس څښتن ورته وویل: کله چې له تا څوك پوښتنه وکړي چې آس دې له کومه ځایه کړ؟ نو داسې مه ورته وایه چې له یو چا مې داسې په چل ول ځینې وتښتولو، بلکې ورته وایه چې یو کس په تحفه کې راکړی.
آس تښتوونکي ورته وویل چې ولې؟
د آس څښتن ورته وویل: زه په دې وېرېږم چې خلك ښېګڼه پرې نږدي بیا به هېڅوك له یو محتاج سره کومك او مرستې ته زړه ښه نه کړي او وایي به چې فلاني له فلاني سره کومك کړی چې بیا یې داسې چل او دوکه ورسره وکړه، او په دې سره به له ټولنې د خواخوږۍ او همکارۍ مفهموم ورك شي.

لس کاله خدمت...

ویل کېږي یو پاچا لس وحشي سپي وروزل، هوډ یې وکړ، که هر وزیر ورته غلطه مشوره ورکړي، نو دې سپو ته به یې اچوي، یو ځل یو وزیر په مشوره کې خطا شو، پاچا امر وکړ، وزیر یې زندان ته ولېږه چې په سپو یې وخوري، وزیر ورته وویل: پاچا صیب ستا مې لس کاله خدمت وکړ، لس ورځې اجازه راکړه، بیا چې دې څه خوښه وي، نو ویې کړه، پاچا لس ورځې اجازه ورکړه، وزیر د سپو ساتونکي ته ورغی او ورته یې وویل: ما لس ورځې پرېږده چې د سپو خدمت وکړم، وزیر پوره لس ورځې سپو ته خواړه تیارول او د هغوی خدمت یې کاوه، پاچا لس ورځې وروسته وزیر راووست او سپي یې پرې راخوشې کړل، سپو یې پښو ته غېل او هېڅ یې ورته نه ویل، پاچا وویل: د سپو سره دې څه کړي دي؟ وزیر ځواب ورکړ چې د دې سپو مې لس ورځې خدمت وکړ اوس راته څه نه وایي، خو افسوس چې ستا مې لس کاله خدمت وکړ، خو درباندې معلوم نه شو، پاچا سر ټیټ کړ او وزیر یې معاف کړ .زمري چې زموږ ژوند ته خطر پېښولی شي، نو په درنه یې یادوو، خو سپي چې موږ ساتي په سپکه یې یادو، له چا چې وېرېږو درناوی یې کوو، خو چې خدمت مو کوي، نو په سپکه ورته ګورو.
(له فیسبوك څخه)

که له الله تعالی سره رښتینې واوسې...

که له الله تعالی سره د دنیا په اړه په خپل زهد کې رښتینی واوسې، د دنیا شوق به دې له زړه نه وباسي، که د قیامت راتلو ته په خپل شوق کې رښتینی واوسې، نیك کارونه به درته خوښ وګرځوي، که جنت ته په تلو کې رښتینی واوسې، کلیګانې به یې دروبښي، که د هغه له رسول سره په مینه کې رښتینی واوسې، د هغه د پیروۍ مینه به درته په زړه کې واچوي او کله چې هغه ته د رسېدو په شوق کې ورسره رښتینی واوسې؛ نو د خپل نور له حجاب پرته به نور ټول حجابونه درته لرې کړي!

(له ژوند مې دا زده کړل له کتاب څخه)

دنیا ښایسته ده که بدرنګه؟

هو! دنیا ښایسته ده، که په کې د الله تعالی یادونه وي!
د الله په یادونه سکون وي.
د الله تعالی طاعت وي، د هغه له اوامرو متابعت وي.
هو! د دنیا ښایست د انسان په ښایست پورې تړلی دي.
که ته د خپلو ظاهري او باطني اعمالو ښکلا ولرې نو یقینا چې دنیا ښکلې ده.
خو دنیا بدرنګه ده، که په کې د خپل الله معصیت وي.
د هغه د ښودلې لارې خلاف وي
د هغه د سرکشو خلکو سره ناسته پاسته وي.
ځکه د دنیا ښایست خپل رب ته په نزدیوالي او بدرنګي یې له هغه څخه په لرې والي کې ده.
نو اوس ته ووایه چې ښکلې دنیا غواړې که بدرنګه؟

اریکی: habibi@eslahonline.net

و معلوماتی

چه عجب دعایی!

درویشی مستجاب الدعوه در بغداد پدید آمد . حجاج یوسف را خبر کردند، بخواندش و گفت: دعای خیری بر من کن. گفت: خدایا جانش بستان. گفت: از بهر خدای این چه دعاست؟ گفت: این دعای خیرست تو را و جمله مسلمانان را.

ای زبردست زیر دست آزار ❁ به چه کار آیدت جهانداری
گرم تا کی بماند این بازار؟ ❁ مردنت به که مردم آزاری

❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁

نشانه ی کوچک مرض قلب

از نشانه های مرض قلب به شهوات متاثر شدن سریع از فتنه هایی است که رخ مینماید، از آنجایی که قلبش مبتلا به این بیماری است قوت مقاومت در برابر کوچکترین فته ها را ندارد. بل، برای هر فتنه پیش آماده سر تکان داده و از آن استقبال مینماید. از هیمن جا است که الله متعال می- فرماید:

(فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ) (احزاب/۳۲).

«صدا را نرم و نازک نکنید که بیمار دلان چشم طمع به شما بدوزند».

وی اگر بشنود که زنی نرم صحبت میکند –هر چند بدون قصد باشد– نسبت به آن طمع میورزد، نفسش وی را به بدی فرمان میدهد تا در آن فرو افتد، چه رسد به این که از نازک صحبت کردن به مورد بالاتری رو برو شود، اگر زنی برایش بگوید نزدیک بیا چه خواهد کرد، با سرعت به فتنه خواهد افتاد. (نعوذ بالله من ذالک). از مقاله ی "شهوات مانع دینداری" ماخذ: اصلاح انلاین)

علامه اقبال می گوید:

نه افغانیم و نی ترک و تتاریم
چمن زادیم و از یک شاخساریم
تمیز رنگ و بو بر ما حرام است
که ما پروردهء یک نو بهاریم

نمی دانم چرا می شود؟

می دانم چه می خواهم خدایا
به دنبال چه می گردم شب و روز
چه می جوید نگاه خسته من
چرا افسرده است این قلب پرسوز
ز جمع آشنایان می گریزم
به کنجی می خزم آرام و خاموش
نگاهم غوطه ور در تیرگی ها
به بیمار دل خود می دهم گوش
گریزانم از این مردم که با من
بظاهر همدم و یکرنگ هستند
ولی در باطن از فرط حقارت
به دامانم دوصد پیرایه بستند

سعادت در کجاست؟

گفته اند که شوهری بر خانمش خشمگین شده و با لحن تهدید تو را بدبخت خواهم کرد خانمش به آرامی :آمیز برایش کفت گفت نمی توانی که بدبختم کنی چنانچه خوشبختی ام در دست تو نیست، شوهر گفت چگونه نمی توانم! خانم با اعتماد به نفس گفت اگر سعادت در حقوق ماهیانه می بود می توانستی آنرا از من قطع کنی و اگر در طلا و جواهرات می بود می توانستی مرا از آن محروم کنی اما سعادت در چیزی است تو و تمام مردم قادر به مصادره آن نیستید.

شوهر وحشت زده شده و گفت پس سعادت در چیست؟

خانمش با آرامی و یقین کامل گفت: من سعادتم را در ایمانم می یابم و ایمانم در قلبم است و به قلبم جز پروردگار کسی دیگری تسلطی ندارد. از مقاله ی :سعادت درکجاست؟

نویسنده: دکتور(.تسلطی ندارد سف قرضاوی)

سرمقاله

انارشی بازار و مسؤولیت نظام

مشکلات وسختی های فصل سرما، چیزتازه، پدیده ناآشنا و حادثه ناگهانی نیست. معلوم است که هرسال زمستان می آید و سرما بیداد می کند و استفاده جویان خداناترس از چنین فضا به بهره کشی خود می پردازند و بسترتنگی را برای مردم فقیر و خانواده های بی بضاعت زمینه سازی می کنند تا هرچه بیشتر خون این ملت را بنوشند.

درچنین شرایطی مهم است تا مسؤولان دولتی قبل از فرارسیدن این فصل آمادگی برای جلوگیری از مشکلات و سختی ها در عرصه های مختلف داشته باشند و از پیش اوضاع را زیر مدیریت گیرند.

این مسئولیت حاد و مهم مسؤولین دولتی است تا درکنار سایر مسایل ،همواره زاویه های اوضاع اقتصادی را نیز زیر ذره بین خود داشته باشند تا خوب تر بتوانند که با تدابیر و پلان های معقول به قضایای بحران آفرین، حوادث غم انگیز و مصیبت آور و فاجعه های نا به هنگام رسیدگی لازم نمایند وبدین وسیله، کشور و ملت خود را از رفتن به پرتگاه نجات دهند.

اما شاهد هستیم که با آمدن فصل سرما، نرخ های مواد طرف نیاز مردم به گونه سرسام آور صعود نموده و لجام گسیختگی، مطلق العانیت و انارشی در بازار حاکم گردیده است؛ از گوشه ی تا گوشه ی دیگرشهر نرخ ها از همدیگر متفاوت اند. رویهم رفته، مردم بی بضاعت و فقیر در این فصل لحظه شماری مرگ را می کنند و همچنان بیکاری به نقطه اوج خود رسیده است و به همین خاطر است که در این ماه ها به صدها جوان با تحمل سختی های راه و خطرات احتمالی آن، به سوی ایران، کشوری که خود گرفتار مشکلات است، روان هستند تا فرصتی برای کار بدست آورند و تابه این گونه دست کم برای زنده ماندن خود و خانواده شان، تلاش کنند.

نکته یی که در این اواخر تأثیر منفی در روند صعود قیمت ها و فرار سرمایه و سرمایه گذاران از کشور دارد، تبلیغات خیلی سنگین و در واقع زهرآگین رسانه هااست در پیوند به آمد آمد سال دو هزار و چهارده، سال خروج نیروهای خارجی از کشور، و عدم امضای پیمان امنیتی بین امریکا و افغانستان و خطرات احتمالی ناشی از گزینه صفر و خروج کامل نیروهای خارجی از کشور.

این گونه تبلیغ کردن و این قضیه را خیلی برجسته جلوه دادن، تشویش و نگرانی را برای سرمایه گذاران بدنبال داشته و بازار افغانستان را که قبل از این از یک سو سیلی محکم اقتصاد بازار آزاد را متحمل شده و از سوی دیگر هم به مرض فساد مبتلا می باشد، گرفتار بحران نموده است.

برای مدیریت این بحران، توجهی بایسته که تا هنوز صورت نگرفته است و قدم های سازنده و مؤثر برداشته نشده است و از کنار نظارت بر بازار و کنترول قیم به بهانه های! رد می شوند و برای بهبود بخشیدن وضع زندگی زمستانی اقشار بی بضاعت و افراد بیکار جامعه تدابیری لازم اتخاذ نگردیده است و در قسمت مدیریت تبلیغات سوء و منفی و در عین حال مشکل آفرین رسانه ها در پیوند به قضیه پیمان استراتیژیک با امریکا و خروج نیروهای خارجی از کشور، نیز دولت توجه ی نکرده است.

با این همه حال، لازمه دولتداری است که جلوگیری از آنچه نماید که برای کشور و ملتش بحران می آفریند و مصیبت می آورد و تشویش و نگرانی ببار می آورد.

زدودن عوامل دردها و ناهنجاری های روانی در این شرایط، باید در اولویت کاری نظامداران قرار داشته باشد چون بی توجهی و بی اعتنایی در برابر این قضایا، فقر را بیشتر کرده و بازار افغانستان را زیادتر به سوی تشتت و انارشیزم می برد و سیرگریز سرمایه را سرعت می بخشد.

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش نشرات و فرهنگی

هفته نامه اصلاح ملی اونیزه

دلسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

www.eslahonline.net

دلیکوال پلاوي تر نظر لاندې

دامتیاز خاوند:

جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان

رئیس هیأت تحریر:

عبدالفتاح جواد

مدیرمسئول:

نقیب الله حمید 0774327438

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001202080036
(افغانی)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001201080036
دالر امریکائی

دیزاینر: شاهد صافی

از منبر
جمعیت اصلاح

امنیتي تړون

او له ولس نه دحکومت لرې والی

په دې ورځو کې افغانان دتاریخ په یو خطرناک کړلیچ کې قرار لري، که له یو لوري امریکا دامنیتي تړون ترنامه لاندې په افغانستان کې داوږده مهال لپاره دپاتې کېدو پلمې لټوي، له بل لوري، مختلفې کړۍ دنورو په لمسه افغان ولس دقوم، سیمې او ژبې په نامه سره وېشي، ترڅو له دې لارې دپردیو اهدافو پروسه پرمخ بوځي.
بل پلو په حکومتي ادارو کې پراخ فساد او د چارواکو بې حسي یو بل داسې ناسور دی، چې ورځ تر ورځ دافغان ولس دوجود وینې زېښې او نه پرېږدي چې افغانان دآرامۍ ساه واخلي.
په دې کې شك نه شته چې ددې ناخوالو او ګډوډیو اصلي لوبغاړي بهرنیان دي، او دملت دټوټه کولو له لارې دوی خپلو موخو ته پا آسانۍ سره رسېدلای شي، او په خواشینۍ سره باید ووایو چې ډېرې افغانان هم دهمدې پردیو په لسمه دخپل ولس په مقابل کې ودرېدلي او ددې لوبې مهرې جوړې شوې دي چې دنورو ګټې دخپل ولس پر ګټو مقدمې ګڼي او ددې کار لپاره هرې لویدنې ته تیار دي.
نن سبا چې دامریکا له لوري پرافغان حکومت دهر اړخیزو فشارونو له لارې داهڅه کېږي چې ژر تر ژره امنیتي تړون لاسلیك کړي، ترڅو امریکا په لږ مصرف او خلاص مټ دخپلو موخو لپاره په افغانستان کې کار وکړي.
داچې امریکا افغانستان ته دکومو موخو لپاره راغلې ده، هغه ټولو ته څرګندې دي، خو ځنې افغاني کړۍ بیا غواړي چې د امریکا ښکاره موخې دخلکو له پامه لرې او پرځای یې امریکا دیو خدایي خدمتګار په توګه معرفي کړي او داسې وښیي چې په افغانستان کې د امریکایي قوتونو دپاتې کېدو یوازنی هدف دافغانستان دامنیت ساتل او ددې هېواد پرمختګ دی.
په دې کې شك نه شته چې ولسمشر کرزی تر ډېره ددې تړون پر عواقبو او اصلي موخو پوهه دی، دهمدې لپاره یې له لاسلیك نه ډه ډه کوي، او نه غواړي چې په تاریخي ډول ځان راتلونکو نسلونو ته تورن کړي، او په دې ټینګار کوي چې راتلونکی ولسمشر به دا تړون لاسلیك کړي، خو دکرزي اداره په خپلو کې سره هم یوه خوله نه ده، تردې چې ځنې وزیران او لوړپوړي چارواکي هم دولسمشر دوینا برخلاف عمل کوي او په ډاګیزه توګه په عاجل ډول له امریکا سره دامنیتي تړون دلاسلیك غوښتونکي دي.
همدا راز زمونږ په هېواد کې سیاسي اپوزیسیون کوم اصولي موقف نه لري او نه هم له حکومتي کړونو سره ددوی مخالفت داصولو پر بنیاد دی، بلکې یوازې دقدرت دلاسته راوړلو لپاره دحکومت مخالفت کوي، او په هره ښه او بده کې باید مخالف وي، نو له هغوی نه هم دسم تصمیم او پرېکړې امید بې ځایه دی.
داچې ولسمشر کرزی په ډېر ټینګار سره دامنیتي تړون له لاسلیك نه سرغړاوی کوي، نو دولسمشر دا کار دستاینې وړ دی او باید ننګه یې وشي، خو بلخوا دهمده داداري ډېرمهم او لوړپوړي چارواکي په زغرده او دولسمشر پر خلاف ددې تړون دژر تر ژره لاسلیك کېدو غوښتونکي دي، چې دا دوه ګونی موقف له خلکو سره پوښتنې را ولاړوي.
که چېرې حامد کرزی په رېښتیا سره له امریکا سره دامنیتي تړون لاسلیك نه غواړي نو په کار ده چې په دې اړه ولس په اعتماد کې واخلي، همدا راز هغه جریانونه او ډلې چې له امریکا سره دامنیتي تړون په اړه اندېښنې لري او یایې مخالف دي له هغوی سره هم خبره ورسره شریکه کړي، ترڅو دخپل موقف لپاره یو کلك بنیاد پیدا او په زغرده امریکا او دهغې لاسپوڅو ته ځواب ورکړي.
افغانان په هېڅ شرایطو په خپل هېواد کې پردۍ نظامي اډې نه مني او نه هم ورته اړتیا لري، ولې دا ددې معنا نه ورکوي چې له نړۍ سره دې اړیکې پرې کړای شي، بلکې دخپلې خاورې دتمامیت، ملي وحدت او دیني ارزښتونو په رڼا کې له هر هېواد سره دښو او محترمانه اړیکو غوښتونکي دي.
همدا راز دامریکایانو او نورو بهرنیو قواوو له وتلو وړاندې باید یو بین الافغاني تفاهم ته لاره هواره شي، چې دا کار ځانګړو هڅو، اخلاص او قربانۍ ته اړتیا لري، او بهرنۍ قواوې باید دیو منظم پلان له مخې دلنډ مهال وېش پربنا له هېواده بهرشي، چې په دې سره به د محتملو ګډوډیو مخ نیول شوې وي او هېواد به یوځل بیا دجګړو پر ډګر نه بدلېږي.